مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لبوال ۲۰۲۰/۰۴/۱۷

د بشریت دعواوې دروغ دي

د خردمند انسان شتون به هغه وخت د منلو شي، چې د کورونا کړکېچ په پایله کې د ریښتیني تمدن، پوهې، اخلاقو، عدالت اوعاطفې د واکمنولو په پار راپاڅېږي او دغه ښکلي مفاهیم له لفظ څخه مانا ته راولي.

د بشریت د «تمدن» دعوه دروغ ده، چې وسله جوړولای شي، خو د ځانژغورنې په پار درمل پنځولای نه شي.

د بشریت د «پوهې» دعوه دروغ ده، چې اته سوه میلیونه نوري کاله لرې تشیالي (کهکشانونه) لیدلای شي، خو په خپلو سرو کې ګرځنده وایروس پېژندلای نه شي.

د بشریت «اخلاقي» دعوه دروغ ده، که په خپلو همغو لاسونو، چې خپل بچي نازوي، د نورو بچي پر بمونو الوځولای شي.

د بشریت د «عدالت» دعوه دروغ ده، چې د درېیمې نړۍ تر زمکې لاندې تېل لیدلای شي، خو د زمکې پر سر یې د ماشومانو سوي الوي اندامونه لیدلای نه شي...

د بشریت د «ایمان» دعوه دروغ ده، که باور لري، چې معبود یې د نورو انسانانو پر وینه بهولو خوشالیږي.

او که څوک دعوه کوي، چې په دې هرڅه کې خو «ټول» بشریت ملامت نه دی. نو دا دعوه هم دروغ ده، ځکه ګڼ بشریت د لږ شمېرو بنیادمانو دا ټولې نارواوې د سر په سترګو ویني، خو کرار او بېتفاوته ورته ناست دی.

د خردمند انسان شتون به هغه وخت د منلو شي، چې د کورونا کړکېچ په پایله کې د ریښتیني تمدن، پوهې، اخلاقو، عدالت اوعاطفې د واکمنولو په پار راپاڅېږي او دغه ښکلي مفاهیم له لفظ څخه مانا ته راولي.

یاهو!!!!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ